# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

دیارلسم کال، ۱۵۴،۱۵۵ او ۱۵۶ گڼه د ۱۳۹۹ د غبرګولي میاشت




# د افغانستان بانک سرپرست رئیس معرفي شو



**هموطنان گرامی!**

**بیرق ملی، سرود ملی و پول ملی از جملۀ ارزش های ملی ما هستند**

## د افغانستان بانک خبرتیا!

د مخکینی خبرتیا په تعقیب، د افغانستان بانک یو ځل بیا درنو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې په مرکز او یو شمېر ولایتونو کې ځینې وګړي لا هم د فورکس د آنلاین سوداګرۍ په نوم مالي معاملې ترسره کوي. د افغانستان بانک تر اوسه هیڅ وګړي یا شرکت ته د فورکس آنلاین فعالیتونو جواز صادر کړی نه دی او په دې برخه کې ټول فعالیتونه غیرقانوني دي. له کومه چې د دغو وګړو او شرکتونو سره معاملې بې خطره نه دي او د هېوادوالو لپاره مالي زیانونه رامنځ ته کوي، له درنو هېوادوالو څخه په کلکه غوښتنه کوي چې د دا شان وګړو او شرکتونو سره له معاملو څخه ډډه وکړي.

د افغانستان بانک په هڅه کې دی چې هغه وګړي چې دا شان فعالیتونه ترسره کوي، وپېژني او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې معرفي کړي.

بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: داکتر جهانتاب ولیزار و نصر الله ستانکزی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوری و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی

آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af

شمارهٔ ثبت: ۶۵۸

www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+

## د دې ګڼې مطالب

شیوع ویروس کرونا؛ فرصتی برای تقویه و توسعه تولیدات داخلی

د افغانستان بانک سرپرست رئیس معرفي شو

فراهم سازی تسهیلات، تلاشی برای تداوم فعالیتهای مالی

نقش شرکت های کوچک و متوسط در توسعه خدمات مالی و اشتغالزایی

په اقتصاد کې د لاسي صنایعو ونډه او د دې صنعت پر وړاندې خنډونه

مجلهٔ د افغانستان بانک چهارده ساله شد

POS څه شی ده او کوم کارونه تر سره کوي

که غواړئ راتلونکې مو روښانه وي، نو همدا نن سپما پیل کړئ

څنګه کولای شئ چې خپلې پیسې مدیریت کړئ؟

د ۲۰۱۹ میلادي کال تر پوله شتمنې ښځې

د کورونا ویروس له خپرېدو سره د کومو کار او بارونو ګټه زیاته شوې

د افغانستان بانک عملیاتي کړنو ته ځغلنده کتنه

اقتصادي خبرونه

آیا غواړئ چې شتمن شئ؟

**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسندهگان آن بر می گردد.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

# شیوع ویروس کرونا؛ فرصتی برای تقویه و توسعه تولیدات داخلی

شیوع ویروس کرونا که در اواخر سال ۲۰۱۹ میلادی از چین آغاز شد، محدودیت های تجاری میان کشورها، مسدود شدن راه های تجارتی و ترانزیتی زمینی و هوایی و حتی توقف فعالیت های اقتصادی در جهان را به همراه داشت. اقتصاد نوپای کشور ما نیز از ناحیه انسداد راه ها، مشکلات تجارتی میان افغانستان و کشورهای همسایه، مسدود بودن پرواز های خارجی، نبود عواید ترانزیت هوایی، افزایش قیمت ادویه و وسایل بهداشتی و غیره موارد متأثر گردید.

اختلال در فعالیت های اقتصادی در جهان و حتی در کشور ما باعث کاهش تولیدات و عرضه کالاها گردیده و در کنار اینکه باعث افزایش قیمت مواد اولیه گردید، افزایش قیمت ادویه، وسایل بهداشتی و حتی آکسیجن را که یکی از نیازهای اصلی مبتلایان به ویروس کرونا است، افزایش داد.

شیوع ویروس کرونا و کمبود و حتی نبود وسایل صحی و بهداشتی در کشور، فرصتی است تا متشبثین خُرد، متوسط و بزرگ با سرمایه دست داشته در تقویه و توسعه فعالیت های اقتصادی و بهداشتی و در کُل فعالیت های اقتصادی که منجر به بهبود اقتصاد کشور میشود، بپردازند و با تولیدات داخلی از یکطرف به نیاز های داخلی رسیده گی و از سوی دیگر اقتصاد کشور را حمایه نمایند.

برای اینکه اقتصاد کشور بنابر شیوع ویروس کرونا و قرنطین دوامدار از این بیشتر متأثر نگردد، نیاز است تا تولید کنندگان داخلی از فرصت بوجود آمده استفاده مؤثر کرده و در توسعه فعالیت های اقتصادی نقش ایفاء کنند و با افزایش سرمایه گذاری در بخش تولیدات داخلی در تحرک چرخه های اقتصادی تلاش نمایند.

افزایش سرمایه گذاری در بخش های تولیدی در کشور، نه تنها اینکه اشتغالزایی و فرصت های کار و بار را فراهم می سازد، بلکه کشور را از وضعیت مصرفی بیرون نموده و آهسته آهسته به سوی خود کفایی اقتصادی و رفاه همگانی سوق می دهد.




# د افغانستان بانک سرپرست رئیس معرفي شو



کابل، د ۱۳۹۹ د غبرګولي ۱۵ مه – ښاغلی اجمل احمدي د افغانستان بانک د نوي سرپرست رئیس په توګه معرفي شو.

د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس ښاغلی اجمل احمدي د اقتصادي پراختیا، سوداګرۍ او د بیوزلۍ د راکمولو په برخه کې د ولسمشر ښاغلي محمد اشرف غني د ځانګړي استازي ښاغلي محمد یوسف غضنفر له لوري معرفي شو.

د ولسمشر ځانګړي استازي د ښاغلي احمدي د معرفي په غونډه کې د ولسمشر ۵۴۴ مه ګڼه حکم چې د افغانستان بانک د ټولو د سرپرست رئیس په اړه منظور شوی ؤ ولوست او نوموړي ته یې په چارو کې د بریالیتوبونو هیله وښوده.

ښاغلي غضنفر هيله وښوده چې ښاغلی احمدي به د افغانستان بانک د رياست پر مهال د پولي سياست پر تطبيق او هم د بانکدارۍ په برخه کې لا زياتې لاسته راوړنې ولري.

د نوموړي د پېژندنې په غونډه کې د افغانستان بانک لومړي مرستيال ښاغلي واحدالله نوشير د افغانستان بانک د سرپرست رئيس په توګه د ولسمشر له لوري د ښاغلي اجمل احمدي د ټاکل کېدو مننه وکړه او نوموړي ته يې د مبارکۍ ترڅنګ په چارو کې د لا برياليتوبونو هيله وښوده.

نوموړي په تېرو څو کلونو کې د افغانستان بانک په لاسته راوړنو خبرې وکړې او په چارو کې يې د افغانستان بانک له نوي سرپرست رئيس سره د پوره همکارۍ ژمنه وکړه.

ورپسې د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئيس ښاغلي اجمل احمدي خبرې وکړې او د ولسمشرۍ ماڼۍ له باور يې د مننې ترڅنګ په پوره ځواکمنتيا سره د خدمت کولو ژمنه وکړه. ښاغلي احمدي وويل، چې د پولي سياست لپاره به نوې ستراتېژۍ جوړې کړي او له بانکونو څخه د څارنې په برخه کې به اړين ګامونه پورته کړي.

د يادونې وړ ده چې د افغانستان بانک





سرپرست او نوماند رئيس له دې وړاندې په مالي او بانکي چارو کې د ولسمشر سلاکار او سوداګرۍ او صنعت وزارت د سرپرست وزير په توګه دندې ترسره کړې دي.

پاتې دې نه وي چې د افغانستان بانک د نوي سرپرست د پېژندنې په غونډه کې د ماليې وزارت د سرپرست ښاغلي عبدالهادي ارغنديوال سربېره د يو شمېر دولتي او غير دولتي ادارو استازو د ولسي جرګې يو شمېر غړو، د بانکونو ريسانو، ملي سوداګرو او د افغانستان بانک يو شمېر کارکوونکو هم ګډون کړی وو.

# فراهم سازی تسهیلات، تلاشی برای تداوم فعالیت‌های مالی





کابل، حمل ۱۳۹۹- هیئت رهبری د افغانستان بانک طی نشست فوق العادهٔ گزارش فعالیت ها و دستاورد های آمریت های د افغانستان بانک را پیرامون فعالیت نورمال بانک ها، صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی استماع نمود.

محترم واحد الله نوشیر معاون اول د افغانستان بانک طی این جلسه با اشاره به مشکلات ناشی از شیوع ویروس کرونا گفت که یکی از مکلفیت های د افغانستان بانک حصول اطمینان از تداوم فعالیت‌های مالی در سراسر کشور به گونه نورمال است که د افغانستان بانک خوشبختانه در این عرصه با بانکها، صرافان و عرضه کنندگان خدمات پولی در سراسر کشور با رعایت موارد صحی در خدمت هموطنان قرار داشته و این فعالیت ها بگونه نورمال ادامه دارد.

محترم نوشیر گفت که باد در نظر داشت شیوع ویروس کرونا و پیامدهای احتمالی آن در سکتور مالی، د افغانستان بانک تسهیلات بانکی و مالی را در نظر گرفته تا این سکتور بتواند در شرایط کنونی نقش مثبت ایفا کند.

متعاقباً محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک ضمن ستایش از اجراات آمریت‌های د افغانستان بانک در راستای تطبیق فیصله های هیئت رهبری گفت که با در نظر داشت وضعیت موجود لازم است تا عرضه خدمات بانکی در کشور جهت رفع نیاز های هموطنان و تجار کشور بگونه نورمال ادامه یابد تا مشتریان سکتور بانکی با مشکل عرضه خدمات بانکی مواجه نگردند.●




# نقش شرکت های کوچک و متوسط در توسعه خدمات مالی و اشتغالزایی

امروز، شرکت های خُرد، کوچک و متوسط (MSMEs) و توسعه آنها به عنوان ماشین محرک اشتغالزایی و رمز توسعه اقتصادی کشورها شناخته شده که می تواند از طریق کار آفرینی، نو آوری، تحول در فناوری و نیز ایجاد پویایی در صنعت، سبب افزایش رشد اقتصادی شود.

شرکت های کوچک و متوسط، نهادهای محدود اقتصادی هستند که از طریق انباشت منابع مالی خُرد، کارآفرینی و پیوند با صنایع، زمینه های توسعه اقتصادی را فراهم می سازند. این شرکت ها همچنین در رشد اقتصادی، اشتغالزایی، تولید ثروت و کاهش فقر کشورها نقش حیاتی ایفاء می کنند. به همین علت این دسته از شرکت ها کانون توجه دولت و تصمیم گیران اقتصادی بوده اند.

هدف از انجام این مطالعه بررسی و بهره گیری از تجربیات کشورهای موفق، روش ها و راهبرد های به کار گرفته شده توسط سیستم های مالی این کشورها در تأمین مالی و حمایت از این شرکت ها می باشد.

در واقع شرکت های کوچک و متوسط ستون فقرات اقتصاد یک کشور هستند که این فعالیت ها تقریباً برای اقتصاد تمام جهان مهم است؛ به ویژه برای کشورهای در حال توسعه ای مانند افغانستان که با اختلاف عمده درآمد و بیکاری روبرو هستند.

در بخش اول این مطالعه تعاریف مختلف شرکت های کوچک و متوسط ارائه می شود و سپس جایگاه و اهمیت این شرکت ها مورد بررسی قرار می گیرد. پس از آن تمرکز روی نقش این شرکت ها در توسعه خدمات مالی(Financial Inclusion)، اشتغالی زایی و نقش آن در تولید ناخالص داخلی صورت گرفته و مفاهیم مربوط به آن بررسی می شود. در ادامه راهکارهای کشورها برای حمایت از نهادهای کوچک و متوسط مرور و در پایان پیشنهادها ارائه می گردد.

«

**تعریف شرکت های کوچک و متوسط**

شرکت های کوچک و متوسط در اقتصاد جهانی با تعاریف متفاوتی از دیگر شرکت ها متمایز شده اند. تعریف های متفاوتی برای این شرکت ها از سوی سازمان ها و نهادهای اقتصادی بین المللی صورت گرفته است. لکن تا کنون تعریف جامع و واحدی از شرکت های کوچک و متوسط در دست نیست. هر کشور، سازمان یا نهادی بر اساس معیارهای خاص خود، شرکت های خُرد و متوسط را تعریف کرده اند.

معیارهایی که براساس آن شرکت های کوچک و متوسط شناسایی می شوند، عبارت از تعداد کارکنان، میزان سرمایه، ارزش دارایی، میزان فروش سالانه و مالکیت می باشند.

برخی از تعاریف شرکت های کوچک و متوسط بر اساس معیارهای ذکر شده، در سازمان های بین المللی به شرح زیر است: جدول ذیل تعریف شرکت های کوچک و متوسط را از نظر سازمان های بین المللی ارائه میکند:

| سازمان | حد اکثر تعداد کارکنان (نفر) | حد اکثر در آمد یا گردش مالی(دالر) | حد اکثر دارایی (دالر) |
|---|---|---|---|
| بانک جهانی | ۳۰۰ | ۱۵،۰۰۰،۰۰۰ | ۱۵،۰۰۰،۰۰۰ |
| بانک توسعه قاره امریکا | ۱۰۰ | ۳،۰۰۰،۰۰۰ | - |
| بانک توسعه افریقا | ۵۰ | - | - |
| بانک توسعه آسیا | | - | - |
| بانک توسعه سازمان ملل | ۲۰۰ | - | - |

بانک توسعه آسیا تعریفی رسمی از شرکت های کوچک و متوسط ارائه نکرده و از تعاریف رسمی کشورهای عضو استفاده می کند.

**اهمیت شرکت های کوچک و متوسط در اقتصاد**

همانگونه که در بخش قبل ذکر شد، نگاهی به جایگاه و کارکردهای بنگاه های کوچک و متوسط نشان می دهد که این شرکت ها به عنوان ماشین محرک رشد اقتصادی، در کشورها نقش آفرین هستند. جهت تبیین و اهمیت این بنگاه ها در اقتصاد می توان مهمترین کارکردهای این شرکت ها را در اقتصاد بررسی کرد. مؤلفه هایی که در این باب مورد توجه واقع می شود عبارتند از:

**نقش شرکت های کوچک و متوسط در تجمع پس اندازها ( دسترسی به خدمات مالی)**

یکی از راهبرد های مهم برای هدایت بخش غیر رسمی بازار به بخش مؤلد اقتصاد، توسعه و حمایت از شرکت های کوچک و متوسط است و رونق این شرکت ها منجر به کاهش نرخ مشارکت نیروی کار در شغل های کاذب و غیر رسمی می شود.

این راهبرد، بخصوص در مورد کشورهای کمتر توسعه یافته، به دلیل نسبت بالای بخش غیر رسمی، می تواند مؤثر واقع شود.

خلق کانال های متنوع و کارآ برای هدایت پس اندازهای خُرد به سمت تولید در اقتصاد و دسترسی به منابع مالی یکی از مهمترین دغدغه های اقتصادی دولت هاست. شرکت های کوچک و متوسط به خوبی می توانند ضمن تجمع پس اندازهای پراکنده در اقتصاد، زمینه تزریق منابع مالی خُرد به تولید را فراهم کنند. هر چه کشورها پر درآمدتر شوند، شرکت های کوچک و متوسط در آنها بیشتر شده و بازارهای غیر رسمی به سمت بازارهای رسمی و مؤلد هدایت می شوند.

تشویق و حمایت این شرکت ها، باعث رشد و تقویت آنها شده و می تواند به مرور زمان به شرکت های بزرگ رسمی تبدیل و به

منابع مالی رسمی دسترسی پیدا کند. این شرکت ها در صورت ایجاد اشتغال، زمینه دسترسی به خدمات مالی ( Financial Inclusion) را نیز افزایش می دهند.

شرکت های مذکور به رشد اقتصادی کمک کرده، سرمایه گذاری ها را در بخش زیربنای سکتور مالی افزایش و باعث پیشرفت توسعه خدمات مالی (Financial Inclusion) می گردند. همچنان کالاها و خدماتی را با قیمت پائین برای خانواده های کم در آمد نظر به تقاضای آنها عرضه می نمایند تا بتوانند وجوه باقیمانده خویش را پس انداز نموده به منابع مالی رسمی دسترسی داشته باشند.

**نقش شرکت های کوچک و متوسط در اشتغالزایی**

این شرکت ها تمایل به کارگیری فرآیندهای تولید را بیشتر از شرکت های بزرگ دارند. فیصدی بالایی از نیروی کار هر کشور در شرکت های کوچک و متوسط فعالیت می کند.


طبق مطالعه ای که در امریکا انجام شده، این شرکت ها ۱۶ برابر اختراع بیشتری در مقایسه با نهادهای بزرگ به ازای هر کارمند به ثبت می رسانند. نمونه دیگری که می توان در اینجا ذکرکرد، در مورد اتحادیه اروپا است. به عبارتی این شرکت ها ستون فقرات اقتصاد و ۹۹ در صد از تمام مشاغل در اتحادیه اروپا را تشکیل می دهند.

بر اساس مطالعه ای که توسط سازمان OECD صورت گرفته، نشان می دهد که شرکت های کوچک و متوسط در کشورهای عضو این نهاد ۶۵ درصد از اشتغال کُل صنعت را داشته اند، در حالیکه در بخش خدمات سهم آن ۷۵ درصد است.

دلایل ذیل کافیست تا دولت ها با حساسیت بالایی به عملکرد شرکت های کوچک و متوسط نظارت داشته باشند، اما آنچه درباره بنگاه های کوچک و متوسط حائز اهمیت است، ظرفیت آنها در خلق فرصت های شغلی جدید و بکار گرفتن نیروی های بیکار در کشورهاست که این میکانیزم منجر به تعدیل نرخ بیکاری می شود.


گراف های ذیل، فیصدی اشتغال در شرکت های کوچک و متوسط به تفکیک درآمدی کشورها را نشان میدهد.

**گراف ۱: نقش اشتغالزایی**




منبع: دلبرگ، گزارش حمایت از تشبثات کوچک و متوسط از طریق وساطت های مالی در کشورهای رو به توسعه

**گراف ۲: سهم میانگین اشتغالزای مطابق به اندازۀ تشبثات بر اساس درآمد کشور**




منبع: گزارش چهارم: تشبثات کوچک و متوسط و اشتغالزایی مناسب و پرمحصول، ادارۀ جهانی کار، سال ۲۰۱۵

**نقش شرکت های کوچک و متوسط در تولید نا خالص داخلی GDP**

سهم این شرکت ها در رشد تولید ناخالص داخلی از یک کشور نسبت به کشور دیگر متفاوت است. در اقتصاد های با درآمد بالا، این شرکت ها ۵۰ درصد و یا بیشتر از این تولید ناخالص داخلی را تشکیل می دهد و باعث اثر گذاری بیشتر بر رفاه اقتصادی می گردد. در حالیکه در کشورهای با در آمد پائین سهم این شرکت ها ۱۶ فیصد در تولید ناخالص داخلی است. از اینرو تولید ناخالص داخلی کشورهای با درآمد بالا و پائین متفاوت است.


جهت معلومات بیشتر در اینجا به نقش شرکت های خُرد، کوچک و متوسط در کشورهای هندوستان و مراکش می پردازیم.

در هندوستان، ۳۶ میلیون شرکت های کوچک و متوسط موجود است که در آن ۸۰ میلیون نیروی کار وجود داشته و ۸ فیصد تولید ناخالص داخلی این کشور را تشکیل می دهد. به این ترتیب، در مراکش وضعیت متفاوت حاکم است، در حال حاضر بخش اساسی اقتصاد این کشور را شرکت های خُرد و کوچک که سهم آن در تولید ناخالص داخلی بیش از ۹۰ فیصد، در تولید صنعتی ۳۸ فیصد، سرمایه گذاری های داخلی ۳۳ فیصد و در صادرات ۳۰ فیصد می باشد، تشکیل میدهد.

معمولاً کشورهای با درآمد بالا، درصد مشاغل و تولید ناخالص داخلی خود را از بخش رسمی شرکت های مذکور به خود اختصاص میدهند، و همچنان کشورهای مانند: امریکا، آلمان، جاپان و انگلستان پیش شرط های مثبت برای توسعه و پیشرفت این شرکتها مانند رژیم حمایوی مالیاتی، زیر ساختهای مالی و محیط نظارتی را تعیین کرده است.

گراف ذیل سهم SME را در تولید ناخالص داخلی نشان می دهد.

**گراف ۳: نقش تشبثات کوچک و متوسط در تولیدات ناخالص داخلی (ارقام میانگین)**




منبع: رشد اقتصاد جهان توسط تشبثات کوچک و متوسط گروه ایدنبرگ، صفحه ۸

**پیشنهاد ها**

اهتمام به حمایت از شرکت های کوچک و متوسط در کشور، می تواند در فضای کسب و کار، تعدیل نرخ بیکاری و افزایش دسترسی به منابع مالی رسمی مؤثر واقع شود. در این راستا برای حمایت از شرکت های مذبور در اقتصاد می توان راهکارهای زیر را پیشنهاد کرد:

- بانک ها به دلیل ریسک بالای این شرکت ها تمایل به تأمین مالی این بخش از اقتصاد نشان نمی دهند، که باید دولت با تدوین راهکارهای عملیاتی، شکاف تأمین مالی این شرکت ها را بهبود بخشند.
- تأمین زیر ساخت های اقتصادی و کاهش یا معافیت مالیاتی، در ساختار اقتصادی مهمترین ابزارهای قابل دسترس برای رفع مشکلات شرکت های کوچک و متوسط بشمار میروند که باید به آن توجه بیشتر صورت گیرد.
- تدوین بسته های حمایتی مبتنی بر فضای کسب و کار

کشور مورد دیگریست که باید به آن توجه مبذول داشت که این بسته های حمایتی باید در بستر ساختار نهادی موجود تدوین شده و مؤثر واقع شود.

**نتیجه گیری**

بر اساس مباحث فوق، در شرایطی که کشور با بیکاری و فقر مواجه است، توجه به شرکت های خُرد، کوچک و متوسط به عنوان محور اصلی رونق تولید و خلق فرصت های شغلی و دسترسی به منابع مالی در فضای کسب و کار کشور به آنها یک امر ضروری است.

شرکت های کوچک و متوسط، به دلیل داشتن ویژگی هایی بارزی چون نیاز به سرمایه اولیه محدود، داشتن انگیزه بالا و ابتکار عمل و انعطاف پذیری زیاد در مقابل تغییرات بازار و محیط به عنوان ماشین محرک رشد، نوآوری و توسعه کشورها شناخته شده است.

بر اساس مطالعات انجام شده، شرکت های کوچک و متوسط نسبت به هر کشور متفاوت بوده و در بخش های، تولید ناخالص داخلی، اشتغال زایی و کاهش فقر سهم بارزی دارد.

بناءً، حمایت از این شرکت ها می تواند که زمینه کار آفرینی، دسترسی به منابع مالی و خدمات بانکی، رشد تولید ناخالص داخلی، تعدیل نرخ بیکاری را افزایش، فقر را کاهش و باعث رفاه اقتصادی جامعه گردد.

**منابع و مأخذ:**


1. Inter-American Development Bank (IADB)

2. African Development Bank (AFDB)

3. United Nations Development Programme (UNDP)

4. Frankfurt School of Finance & Management (2017). Financing Micro, Small and Medium Enterprises (MSME): MSMEs Facilitate Financial Inclusion. PP.14-22

5. International Finance Corporation: IFC Advisory Services, “The SME Banking Knowledge Guide”, 2010.





صدیقه علوی

تحلیلگر جندر آمریت توسعه خدمات مالی



# په اقتصاد کې د لاسي صنايعو ونډه او د دې صنعت پر وړاندې خنډونه

لاسي صنايع د پرمختيايي هېوادونو په اقتصاد کې مهم رول لري، ځکه چې دې سره د ټولنې د غريبو خلکو ژوند تړلی او له همدې لارې خپلې ورځنۍ اړتياوې پوره کوي. لاسي صنايع د لومړني صنعت بنسټيزه بڼه ده چې عموماً د دوه ګونې اقتصاد لرونکي هېوادونو د اقتصاد په ځانګړې توګه د کليوالي اقتصاد لويه برخه جوړوي. زمونږ هېواد هم د لاسي صنايعو په برخه کې په نړۍ کې ځانګړی نوم لري. که وګورو نو د پنبې څخه ډول ډول صنعتي توليدات لکه د پوشاک وسايل او نور جوړوي، همدا شان به ټول

هېواد کې په ځانګړي ډول شمالي ولايتونو کې د غاليو صنعت خپله ځانګړې ښکلا لري او په يو شمېر ولايتونو کې بيا د کلالي لوښيو جوړښت ځآنګړی ارزښت لري. همدارنګه ټغر جوړونه، ليمڅی جوړونه، سترنجۍ، زرګري، ترکاڼي، دستکول جوړونه، فلزکاري او قره قل جوړونه هغه صنعتونه دي چې د هېواد په مختلفو ولايتونو کې د زياتو خلکو ژوند ورسره تړلی دی.

د لاسي صنايعو توليدات ملي عايد لوړونه کې مهم رول لري. يوازې که غاليو څخه يادونه وکړو، غالی د افغانستان د مهمو



تاج محمد تمکين
د افغانستان بانک د ختيځ زون اقتصادپوه

صادراتو له ډلې دي. د احصائيې له مخې په ۱۳۸۵ کال کې د ۱۸۳،۶۷۵،۰۰۰ امريکايي ډالرو په ارزښت او په ۱۳۸۶

کال کې د ۱۷۵،۷۶۰،۰۰۰ امریکایې ډالرو په ارزښت اعلی غالی بهرنیو بازارونو ته وړاندې شوې دي.

له بده مرغه، په افغانستان کې د لاسي صنایعو په وړاندې یو شمېر ستونزې شتون لري چې دلته به ترې په لنډ ډول یادونه وکړو:

- د لاسي صنایعو په برخه کې یو ګټور مدیریت شتون نلري. مدیریت، د تولید د عواملو مهم عامل دی چې د دغه عامل د تولید په برخه کې ورځ تربلې ارزښت زیاتوي. مدیریت د تولید د عواملوڅخه هغه عامل دی چې د هغه په وسیله د تولید نور عوامل په مناسبه او صحیح بڼه ترکیب او د یوه ګټور محصول د منځته راتګ لامل کېږي. څرنګه چې په هېواد کې د اغېزناک مدیریت د نشتوالي په صورت کې د تولید عوامل په غیرمناسب او نادرست ډول ترکیب او بالاخره د محصول پایله منفي یا کمه راځي، نو هغه کسان باید د صنعتي تصدیو د اداره کولو لپاره غوره شي چې په دغه څانګه کې پوره بلد تیا ولري، تر څو د امکاناتو څخه سمه استفاده وکړي او کار مثبت لور ته د حرکت په حال کې وساتل شي.

د خامو موادو د پروسس د مرکزونو نشتوالی، د دې لامل شوی چې زیاتې ستونزې رامنځته کړي. د دغه ستونزې له کبله د هېواد له داخل څخه خام مواد بهر ته د پروسس لپاره استول کېږي او وروسته بیا د دویم ځل لپاره په درې یا څلور برابره بیه، هېواد ته راوړل کېږي چې ښه بېلګه یې پنبه ده. پنبه بلجیم او نورو هېوادونو ته په ارزانه بیه صادرېږي او وروسته له پروسس څخه بیا په ډېره لوړ ه بیه د دویم ځل لپاره افغانستان ته د غالیو او ټغرو د تولید لپاره راوړل کېږي. که چېرې دا پنبه د هېواد د ننه پروسس او د غالیو په تار واړول شي، لګښت یې کمېږي او په نړیوالو بازارونو کې یې رقابتي ځواک زیاتېږي.

همدا شان د کندهار او نورو ولایتونو څخه هم پنبه کویټې ته لېږل کېږي او بیرته تر پروسس وروسته افغانستان ته د غالیو د تولید لپاره په لوړه بیه واردېږي.

په ګران هېواد افغانستان کې د کافي پانګې نشتوالی بله ستونزه ده. څرنګه چې سرمایه د تولید د اساسي عواملو له ډلې ده. نو دهغه کمښت د تولید په مقدار او کیفیت باندې نېغ په نېغه اغېزه لري.

- افغانستان کې د کافي پانګې د نشتوالي له کبله مؤلدین د زیاتو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. دوی نه شي کولای چې خپلو کارونو ته پراختیا ورکړي، کنه د هېواد په سترو ولایتونو کې که پانګه چمتو شي د لاسي صنایعو د پیاوړتیا لپاره ښه زمینه برابرېدلای شي.
- د توکو د لیږد رالیږد ستونزه هم جدي ده. په افغانستان کې د صنایعوپه برخه کې د لېږد او رالېږد ستونزې د صنایعو پراختیا کې لوی خنډ ګرځېدلې دي. څرنګه چې افغانستان په وچه پورې تړلی هېواد دی او له بحر سره نښتی نه دی او بحري ترانسپورت د وچې ( بري) او هوايي ترانسپورت څخه په مراتبو ارزانه دی او افغانستان له هغه څخه ګټه نشي اخیستلای چې دا مسئله د افغاني تولیداتو د بیو د زیاتوالي لامل کېږي او د رقابت کچه ئې ټیټېږي. همدارنګه د خامو موادو لپاره د ترانسپورت د ستونزو یادول ضروري برېښي یعنې د ترانسپورت د ستونزې له کبله یا په وخت سره اومه مواد

«

توليدي ځايونو ته نه رسيږي او يا يې هم د بيې کچه ډېره لوړوي. له همدې کبله ګاونډيو هېوادونو زمونږ د سوداګرو له دې ستونزې ګټه اخلي او توليدي توکي په ارزانه بيه پېري.

افغانستان ته د بهرنيو ورته اجناسو راواردېدل بله ستونزه ده چې زمونږ په صنعتي سکتور منفي اغېز لري. د افغانستان ځينې صنعتي توليدات نشي کولای د بهرنيو اجناسو په وړاندې رقابت وکړي ځکه چې د بهرنيو امتعو بيې د کورنيو اجناسو په پرتله ټيټې دي. څرنګه چې د افغانستان خلك فقير دي، نو دوی د خپلو اړتياوو د پوره کولو په خاطر بهرني اجناس د هغه د بيو د ټيټوالي لپاره رانيسي او د هېواد د توليداتو لپاره غوښتنې کمېږي چې بلاخره د هغه د سقوط سبب ګرځي.

د صادراتي تعرفې سلنه بايد کمه شي. دا ډول تعرفې د يو هېواد د سرحدونو څخه د اجناسو د وتلو په خاطر وضع کېږي. په ډېری پرمختيايي هېوادونو کې د دغه ډول تعرفو څخه د دولت لپاره د عايد د لاسته راوړلو په خاطر استفاده کېږي، چې نن ورځ د افغانستان په شمول د دغه ډول تعرفو څخه په نړۍ کې په زياتو پرمختيايي هېوادونو کې ګټه پورته کېږي .

څرنګه چې دا ډول تعرفې د توليداتي صادراتو بيه په نړيوالو بازارونو کې لوړه بيايي، نو د صادرونکو د نارضايتۍ لامل کېږي او خپل صادرات کموي چې بالاخره د توليداتو د کمښت سبب ګرځي.

د امنيت نشتوالی بله موضوع ده چې د صنايعو په برخه کې خنډونه رامنځ ته کوي او نه پرېږدي چې د نامساعدو زمينو په شتون سره د لاسي صنايعو برخه کې پرمختګ وشي.

په افغانستان کې د لاسي صنايعو د پرمختګ لپاره زيات ظرفيت شته چې بايد ترې استفاده وشي او ګټه به يې دا وي چې خلك به کارنو او توليدي پروسه کې ښکيل شي، کورنيو لپاره به عوايد پيدا شي، ملي عايد به لوړ شي او د کار ګمارنې کچه به هم ورسره لوړه شي. په ټوله کې په دې برخه کې پرمختګ د اقتصادي ثبات ترڅنګ هراړخيزې ګټې له ځانه سره لري.

## سرچينې


۱- د افغانستان د سوداګرۍ اوصنايعو وزارت ( ۱۳۸۷) . سالنامه احصائيوي سال ۱۳۸۶ اداره مرکزي احصا ئيه .

۲- آذرخش حافظي (۲۰۰۹).APEA درمورد ايجاد يك مليون جاي كار براي مردم افغانستان . كابل . ص ۲۱ .

۳- http://outlookafghanistan.net/topics.php?post_id=5462

۴- https://iwpr.net/global-voices/afghanistans-declining-handicrafts-sector

# مجلهٔ د افغانستان بانک چهارده ساله شد



بعد از سال ۱۳۸۱ هجری شسمی تغییرات و تحولات اساسی و بنیادی در سایر عرصه ها و بخصوص در نظام بانکی کشور بمیان آمد. یکی از آن تغییرات را می توان استقلالیت د افغانستان بانک عنوان نمود که در مادهٔ دوازدهم قانون اساسی کشور تصریح شده است.

این استقلالیت، د افغانستان بانک را در مسیر کاری کاملاً جدید قرار داد. گسترش فعالیت های د افغانستان بانک و همچنان توسعه نظام بانکی و فعالیت های بانک و بانکداری در کشور، اصل شفافیت و حسابدهی، پخش و نشر اطلاعات، آمار و ارقام در زمینه فعالیت های ادارات؛ ضرورت داشتن نشریه ای را جهت پخش و نشر مقاله های علمی-اقتصادی، فعالیت ها و دستاوردهای د افغانستان بانک، پیشرفت های اقتصادی

دولت جمهوری اسلامی افغانستان و در کُل نظام بانکی کشور، تقویت کرد.

با در نظرداشت اهمیت این موضوع، هیئت رهبری د افغانستان بانک سیزده سال قبل از امروز مجله ای را بنام بانک پایه گذاری نمود.

اولین شماره این مجله در برج سرطان سال ۱۳۸۶ هجری شمسی چاپ و بدسترس شرکای ذینفع از سیاست های د افغانستان بانک و علاقه مندان موضوعات اقتصادی قرار گرفت.

خوشبختانه این مجله بر اثر توجه هیئت رهبری و همچنان سعی و تلاش کارکنان د افغانستان بانک با امکانات محدود توانست در تصریح و تشریح فعالیت های اقتصادی از طریق نشر گزارش ها و مقالات اقتصادی، دستاورد های نظام بانکداری، پیشرفت ها، دستاورد های اقتصادی دولت جمهوری اسلامی افغانستان در سایر بخش های تجارتی و اقتصادی جایگاه خوبی را در پهلوی دیگر نشریه ها بدست آورد.

این مجله ای اختصاصی اقتصادی با مطالب علمی اقتصادی طور ماهانه به چاپ رسیده و بدسترس علاقمندان قرار میگیرد که دانش آموزان عرصه اقتصادی کشور از محتویات آن در سیمینارها و مونوگراف های خویش استفاده می نمایند.

بعد از ختم سیزدهمین سال فعالیت نشراتی مجله بانک، آمریت عمومی دفتر ریاست از همکاران قلمی که با مقالات و مضامین پرمحتوا و مفید اقتصادی شان مجله بانک را همکاری نموده اند و در غنامندی بیشتر مجله سهم فعال گرفته اند، ابراز سپاس و قدردانی می نماید.

به منظور سپاسگزاری از همکاران قلمی مجله بانک، اسمای چند تن از آنهایی را که در تهیه مقالات طی سال گذشته همکاری نموده اند، به نشر می سپاریم و از همه شان تقاضامندیم که با ارسال مقالات تحقیقی و علمی شان و استمرار همکاری های همیشگی قلمی شان مجله ''بانک'' را یاری رسانند.

از محترمان تاج محمد تمکین اقتصاددان زون شرق د افغانستان بانک، محبوب الله شریفی مدیر خطرات سرمایه گذاری آمریت عملیات بازار، غلام حسن زاهدی مدیر عمومی روابط فرهنگی پوهنتون پولی تخنیک، عابدالله بیدار معاون سکشن اطمینان کیفیت ادارۀ ناظر کُل، سعادت شان موسوی کارشناس مالی آمریت عمومی مالی و محاسبه، محترمه صدیقه علوی تحلیلگر جندر توسعه خدمات مالی و عبدالغفور سهیل مدیر ارشد میدل آفیس آمریت عملیات بازار، یحیی عمیم کارمندان آمریت تکنالوژی معلوماتی و سایر همکاران قلمی و کارمندان عزیز که در غنامندی مجله ما را یاری رسانده اند صمیمانه سپاسگزاری می نمائیم.

قابل یادآوریست که مدیریت نشرات آمریت عمومی دفتر ریاست در کنار پیشبرد ماهنامه "مجله بانک"؛ با سعی و تلاش همه آمریت های محترم د افغانستان بانک و تعدادی از کارمندان آمریت عمومی دفتر ریاست راپور سالانه، بولتن های ربعوار، رساله ها و سایر نشریه ها را نیز جهت آگاهی عامه، جامعه اکادمیک، محصلین رشته اقتصاد و شرکای ذینفع از فعالیت های د افغانستان بانک تهیه و به نشر می سپارد.

# POS څه شی دی او کوم کارونه تر سره کوي؟

کارت لوستونکې ماشین یا **POS** تاسو ته د دې امکان برابروي چې په هر ځای کې د خپل بانکي کارت څخه د پېر او پلور پیسې ورکړئ.

په سوداګریزو او نورو مرکزونو کې د دې ماشین شتون لامل کېږي چې تاسو له خپل بانکي کارت پرته، نغدې پیسې له ځان سره انتقال نه کړئ او د همدې کارت په وسیله سوداګریزې راکړې او ورکړې تر سره کړئ.

باید وویل شي چې دا ماشین د دې وړتیا هم لري چې هر وخت او هر ځای کې تاسې خپل بانکي حساب چک کړئ.

د دې ماشین کارونه ډېره ساده ده، کافي ده چې تاسو خپل کارت یادې ماشین ته دننه کړئ او خپل ټاکل شوی مبلغ په کې ولیکئ، کله مو چې دا کار ترسره کړ خپل پټ نوم یا پاسورډ مو ورکړئ، د دې چارې په ترسره کولو سره به ستاسو له حساب څخه د پېرل شوي توکي پیسې وګرځول شي.

د دې ټولو چارو ترسره کول یوازې څو ثانیې وخت نیسي او په بشپړېدو سره به یاد ماشین تاسو ته دوه رسیدونه درکړي چې یو یې ستاسو او بل یې د پلورونکي اړوند دی.

تاسو ته د دې رسیدونو رسېدل په دې معنی دي چې ستاسو عملیه په بریالیتوب سره ترسره شوه او تاسو کولای شی د همدې عملیې په بشپړېدو سره او د همدې دستګاه څخه په ګټې اخیستنې خپل بانکي حساب چک او له تر سره شوې عملیې رضایت تر لاسه کړئ.

څنګه کولای شو د کارت لوستونکې

»



ماشین په وسیله خپل بانکي حساب چک کړو؟

کله چې غواړئ خپل بانکي حساب چک کړئ، د اې ټي ایم ماشینونو سربېره که تاسو په خپلو دفترونو، سوداګریزو مرکزونو او یا هم شرکتونو کې POS ماشین ولرئ کولای شئ د څو ثانیو په ترڅ کې خپل بانکي حساب چک کړئ او په اړه یې معلومات تر لاسه کړئ.

د دې چارې د ترسره کولو لپاره مو خپل کارت په یاد ماشین کې دننه کړئ او د دویم پټ نوم په دننه کولو سره به تاسو یو رسید ترلاسه کړئ چې په یاد رسید کې به ستاسو د بانکي حساب په اړه بشپړ معلومات درکړل شي.

## د POS کاروني ګټې

د دې ماشین په شتون سره د برېښنايي کارتونو لرونکي کسان کولای شي د سوداګریزو معاملو د ترسره کولو لپاره د نغدو پیسو له انتقال پرته خپلې ورځنۍ چارې پر مخ یوسي او د راکړو او ورکړو پر مهال له دې ماشین ګټه پورته کړي.

یاد کسان د ټولو هغو خطرونو په وړاندې امن دي کوم چې د دې کارت نه لرونکي کسان د نغدو پیسو د انتقال له ستونزو سره لاس او ګریوان دي.

د POS شتون په سوداګریزو مرکزونو کې پلورونکي د پیسو له پرله پسې شمارخلاصوي. د نغدو پیسو راکړه او ورکړه په کې له منځه ځي.

نغدې پیسې د وېروسونو د لېږد له عواملو شمېرل کېږي، د کارت لوستونکي ماشین شتون او له برېښنايي کارت څخه ګټه اخیستنه د دې ستونزې تر ټولو غوره حل لاره ده.

د دې ماشین په کارولو سره پلورونکي د نغدو پیسو یا چک له اخیستلو خلاصېږي او د دوی د مالي چارو په مدیریت کې د لیدنې وړ پرمختګونه رامنځته کېږي.

د کارت لرونکې ماشین شتون او برېښنايي کارت کارونه د پیسو له زړښت څخه مخنیوی کوي. په لنډ ډول ویلای شو چې په برېښنايي ډول د سوداګریزو راکړو او ورکړو ترسره کول د مالي چارو په مدیریت کې رغنده رول لوبوي او په دې برخه کې زیاتې آسانتیاوې رامنځته کوي.

د خوښۍ ځای دی چې په دې وروستیو کې د هېواد په لویو او وړو ښارونو کې هم د هېوادوالو لپاره د دولتي او خصوصي بانکونو او سوداګریزو مرکزونو له لوري په برېښنايي ډول د سوداګریزو راکړو او ورکړو د ترسره کولو لپاره آسانتیاوې رامنځته شوې دي او هېوادوال مو د همدې برېښنايي کارتونو له لارې په کور دننه او بهر خپلې سوداګریزې چارې ترسره کوي.

تمه ده چې په برېښنايي ډول د سوداګرۍ د پراختیا لپاره به لازمې آسانتیاوې رامنځته شي او په دې سره به د پیسو د زړښت څخه مخنیوی وشي.

باید وویل شي چې د افغانستان بانک هر کال د هېواد له بازارونو ټولې هغه پیسې چې د زړښت له کبله له کاره لوېدلې وي راټولوي او د یوې رڼې پروسې په ترڅ کې یې سوځوي یا له منځه وړي.

که په هېواد کې په برېښنايي ډول د سوداګریزو راکړو او ورکړو فرهنګ وده وکړي او د نغدو پیسو راکړه او ورکړه کمه شي په هېواد کې به هغه برخه پیسې سپما شي کوم چې هر کال د افغانستان بانک له لوري د پیسو د بیا چاپ لپاره کارول کېږي.●

سرچینې:

1 - What is POS? The Definitive Definition/ By Jason Feemster|May 1st, 2020

https://www.posusa.com/what-is-pos/

2 - https://parmisit.com/support/training-center/articles/item

# که غواړئ راتلونکې مو روښانه وي، نو همدا نن سپما پيل کړئ



يو وخت داسې ويل کېدل چې د دندې له پيل او بيا د تقاعد تر وخته د خپل معاش لس سلنه برخه سپما کول مو که شتمن نه کړي، خو دومره هرومرو کولای شي چې تاسو خپله مالي خپلواکي تر لاسه کړئ.

خو اوس بيا د مالي برخې مشاوران او سلاکاران وايي، که غواړئ چې په مالي برخه کې خپلواکي تر لاسه کړئ او د اقتصاد له پلوه پر خپلو پښو و درېږی او بل چا ته اړ نه شئ، اړينه ده چې د خپلو مياشتنيو عوايدو له ۱۵ نه تر ۲۰ سلنه پورې برخه مو سپما کړئ.

دوی زياتوي، که ستاسو د سپما کچه تر دې ټيټه وي، په راتلونکې کې به د پيسو له نشت سره مخ شئ او نورو کسانو ته به احتياج او محتاج واوسئ.

که مو ليدلي وي، کله چې خلکو ته د لس سلنه عوايدو د سپما وړانديز کېږي دوی په حيرانتيا سره د نه پر ويلو سره خپل سر ته ټکان ورکوي، دغه کسان ټولې هغه پيسې چې په لاس ورځي لګوي او هېڅ شی نه ورته پاتې کېږي او آن پورونو ته مخه کوي.

دوی ته له خپلو کمو عوايدو څخه د لس سلنه سپما کول ناشونی ښکاري، خو په اصل کې داسې نه ده او يوه ښه حل لاره شتون لري چې موږ يې په لاندې ډول درته روښانه کوو:

**د يو سلنه سپما فورمول و آزمايی**

همدا روانه مياشت مو له خپلو عوايدو څخه يوازې يو سلنه سپما وکړئ او پاتې ۹۹ سلنه نور عوايد مو د خپلو ورځنيو چارو د پرمخ وړلو لپاره وکاروئ.

باور وکړئ چې همدا يو سلنه کمه سپما هم تاسو ته د دې

»

روحیه درکوي چې د سپما په اړه فکر وکړئ او په راتلونکو میاشتو کې د خپلې سپما دا کچه نوره هم لوړه کړئ.

**یوه بېلګه یې درته په لاندې توګه وړاندې کوو:**

که ستاسو د یوې میاشتې معاش ۳۰ زره افغانۍ وي، ستاسو د ټولې میاشتې یو سلنه سپما به ۳۰۰ افغانۍ شي او همدا درې سوه افغانۍ که په دیرشو ورځ وویشئ، هرې ورځې ته یوازې ۱۰ افغانۍ رسیږي.

تاسو له دندې کور ته په رسېدو سره هره ورځ همدا لس افغانۍ د خپلې سپما د پیسو په کڅوړه کې ور زیاتې کړئ، د میاشتې په پای کې به وګورئ چې د سپما کولو په اړه مو په ذهن کې څومره مثبت بدلون رامنځته شوی دی.

په دویمه میاشت کې مو د سپما کولو دا کچه دوه سلنه کړئ او وګورئ چې په میاشتني ډول څومره پرمختګ کولای شئ. په همدې ترتیب مخته لاړ شئ، د هرې چارې پیل یوازې یو زړور خوځښت او حرکت ته اړتیا لري، کله مو چې دا حرکت وکړ بیا به پوه شئ چې په نړۍ کې ناشونی شتون نه لري او د هر ناشوني کار له منځه وړل شونتیا لري.

هغه یو متل دی چې وایي، په حرکت کې برکت دی. نو که غواړئ چې په سپما کې مو برکت رامنځته شي یوازې یو حرکت ته اړتیا ده او یا د هوښیارانو په خبره په زحمت پسې راحت شته.

د یو عمل تکرار په راتلونکې کې پر عادت بدلیږي. د دې لپاره چې ښه عادتونه مو خپل کړي وي او د خپلې ښې راتلونکې او روښانه سباوون لپاره غوره پلانونه ولرئ همدا نن د سپما کولو لپاره د یو سلنه فورمول څخه ګټه پورته کړئ او دا فورمول نړدې معکوس حالت ته ورسوئ.

په دې مانا چې تر هغې پورې د سپما کولو له دې فورمول ګټه پورته کړئ چې پرمټ یې ستاسو د میاشتنیو عوایدو په لګښت کې تر نیمایي زیاته سپما نه وي رامنځته شوې.

که مو همداسې وکړل، پورونه به مو ورو ورو را ټیټ شي او په سپما کې به مو د لیدنې وړ زیاتوالی راشي او یوه روښانه راتلونکې به تاسې ته لارې څاري.

باور وکړئ چې که مو همدا فورمول په خپل ژوند کې پلی کړ، لیرې نه ده چې په لګښتونو کې به مو د لیدنې وړ کموالی راشي او خپل ټول لګښتونه به مو په ښه ډول مدیریت کړي او اداره کړي وي.

سرچینې:

ژباړه او زیاتونه: حسیب الله نوري

https://ipe.ir/بهانه-بی-بهانه-فرمول-یک-درصد-برای-پس-ان/ - 1

2 - https://www.cnbc.com/2017/07/17/savings-rate-formula-will-show-you-how-close-you-are-to-retiring-early.html



# څنګه کولای شئ چې خپلې پیسې مدیریت کړئ؟

که چېرته مو خپلې پیسې مدیریت نه کړې، غیر ضروري پورونه به مو ژوند ته دننه شي او سپما کول به مو ناشوني شي.

که غواړئ چې د پیسو مدیریت زده کړئ، لاندې ټکو ته پام وکړئ:

- **عواید او لګښتونه مو کنترول کړئ**

دا ډېره د ارزښت وړ چاره ده چې خپل ټول لګښتونه مو معلوم کړي او د خپلو میاشتنیو عوایدو په اړه معلومات ولرئ، همدا چاره تاسو ته د دې وړتیا درکوي چې په ښه دول مو خپلې پیسې په کنټرول کې ولرئ او هغه مدیریت کړئ.

- **د لګښت کولو لارې چارې مو په ښه او مشخصې کړئ**

له ځان وپوښتئ چې په هره میاشت کې باید څومره بل پرې کړی؟ د کور کرایه څومره ده او نور که په دې اړه له وړاندې معلومات ولرئ، و به کولای شی چې په ښه ډول مو لګښتونه کنترول کړئ.

کله مو چې دا چاره تر سره کړه، د خپلو میاشتنیو لګښتونو کچه مو معلومه کړئ او دا کچه له خپلو هغو حقوقي عوایدو منفي کړی چې تاسو یې په میاشتني توګه ترلاسه کوی.

که مو لګښتونه له میاشتنیو حقوقو څخه زیات شول، ډېر ژر مو په خپلو لګښتونو کې کموالی راولئ او مه پرېږدئ چې دا چاره مو پوروړي کړي.

- **سپما وکړئ**

کله مو چې خپل میاشتني حقوق تر لاسه کړل؛ یوه اندازه پیسې مو له دې حقوقو ځانګړې کړئ، خوښي او خوشالي له هېڅا لیرې نه ده، نو که غواړئ چې په خوښۍ او خوشالۍ کې مو لاس بل چا ته اوږد نه شي، وړاندې له دې چې خپل ټول میاشتني حقوق ولګوئ یوه اندازه یې څنګ ته کړئ او له لاسرسي یې لیرې وساتئ.

- **د لګښت ځایونه مو وپېژنئ**

د دې لپاره چې پیسې مو په ښه ډول مدیریت کړای شئ، دا هم زده‌کړئ چې پیسې مو څنګه په ښه ډول لګولای شئ. دا چاره به تاسو ته د دې وړتیا درکړي چې په ښه ډول مو پیسې مدیریت کړئ او داسې څه و نه پېرئ چې تاسو ورته اړتیا نه لرئ.

»

**خپلې مالي موخې مو وټاکئ**

خپلې لنډمهاله او اوږد مهاله موخې مو وټاکئ او دې موخو ته د رسېدو لپاره کار وکړئ. په لنډ مهال موخو کې کوچنې موخې ټارګېټ کېږي، خو په اوږد مهاله موخو کې بیا لوېې موخې هدف ګرځي. په یاد ولرئ چې دې موخو ته د رسېدو لپاره د پیسو د مدیریت هغه چارې چې وړاندې یې یادونه وشوه ډېرې اړینې دي.

- **د هرې میاشتې لګښتونه مو له وړاندې وسنجوئ**

د هرې میاشتې په پیل کې مو ټول هغه مالي موارد ولیکئ چې غواړئ په دې میاشت کې یې ادا کړئ، دا ټول مو په بودجه کې ځای کړئ، په یاد ولرئ چې په دغو مواردو کې د کور کرایه، پوروونه، قسطونه او نور... شامل دي.

- **له ټاکلې بودجې زیات لګښت مه کوئ**

په خوله دا خبره ډېره آسانه ده چې تر ټاکلې بودجې باید زیات لګښت و نه شي. دا هم ډېره آسانه ده چې د خپلو عادتونو له مخې زیات لګښت وکړو، خو دا باید زده‌کړو چې څنګه او چېرته خپلې پیسې ولګوو.

**د یادډښت یوه کتابچه باید ولرو**

د بودجې جوړول او د ورځنیو لګښتونو لپاره د یادډښت د کتابچې شتون د پیسو د مدیریت لومړني ګامونه دي. که مو دا کتابچه له ځان سره ولرئ تاسو به د خپلو پیسو په لګښت کې پوره پاملرنه ولرئ او هېڅ داسې کوم څه به وانه خلئ چې اړتیا ورته و نه لرئ.

- **پر باد راوړو پیسو حساب مه کوئ**

دا په دې مانا چې د بخششې او داسې نوروپیسو په اړه چې په زیار ګاللو سره مو نه دي ترلاسه کړې، سوچونه مه وهئ. یوازې هغه پیسې مو په پوره څیرکۍ سره مدیریت کړئ چې تضمین شوې دي او هره میاشت یا کال یې د حقوقو په نوم ترلاسه کوئ.

- **اعتباري کارتونه مو په کور کې پرېږدئ**

که کومه ورځ مو غوښتل چې له کوره بهر ساتېرۍ ته لاړ شئ، د خپلو لګښتونو لپاره مو حساب وکړئ او د همغو لګښتونو سره سم پیسې در سره واخلئ، که داسې و نه کړئ ستاسو د اعتباري کارت په شتون سره به زیات لګښتونه وکړئ او د پیسو د مدیریت پروسه به مو زیانمنه کړئ.

- **د یوې اونۍ د لګښتونو حساب مو وکړئ**

هره اونۍ مو د خپلو لګښتونو کچه او حساب معلوم کړئ او له همدې حساب سره سم مو هره اونۍ د بانکونو له اتومات ماشینونو یا اې ټي ایم پیسې واخلئ او ویې لګوئ.

سرچینې:

1 - http://share.drtaftiyan.com/SC.php?type=component_sections&id=3&sid=2533

2 - https://www.fintelligence.ir/Blog/Detail/C90D7DE5/چرا-خانمها-مهمترند

3 - https://www.fintelligence.ir/Blog/Detail/FDA3CC3D/چشم-و-گوش-بچه-ها-را-باز-کنید

4 - 10 Simple Ways to Manage Your Money Better
By LaToya Irby
Updated April 02, 2019
https://www.thebalance.com/ways-to-be-better-with-money-960664

# د ۲۰۱۹ میلادي کال ډیرې شتمنې ښځې

کله چې د نړۍ د تر ټول شتمنو کسانو یادونه کیږي، ذهن ته مو یوازې نارینه نومونه راځي، د بیلګې په توګه بیل ګیټس، جف بزوس او وارن بافت.

خو پام مو وي چې په نړۍ کې یو شمېر شتمنې ښځې هم شته چې تر ډېرې نارینه سوداګرو یې د پانګې کچه لوړه ده او په خپل غوره مدیریت سره یې دا پانګې را خپلې کړې دي.

راځئ دلته د نړۍ د لس شتمنو ښځو په اړه معلومات ولولئ او وګورئ چې دوی په کومو برخو کې په کار او بار بوختې دي.

۱. فرانسوا بتانکور مایرز ( Françoise Bettencourt-Meyers)

پانګه: ۵۵ میلیارد امریکایي ډالر

څنګه شتمنه شوه؟

مایرز په ۲۰۱۹ میلادي کال کې د نړۍ تر ټول شتمنه ښځه ګڼل شوې ده. نوموړې د لورئال په نوم د ښکلا او سینګار توکو د شرکت خاونده ده. دا په نړۍ کې د سینګار توکو تر ټولو لوی شرکت دی.

مایرز ۶۶ کاله عمر لري، په فرانسه کې زیږېدلې ده او د خپلې شتمنۍ زیاته برخه یې د خپلې مور لیلیان بتانکور څخه په میراث ورته پاتې شوې ده.

کله چې په ۲۰۱۷ زیږدیز کال کې د نوموړې مور وفات شوه، مایرز ته د لورئال شرکت ۳۳ سلنه برخه ورسېده او اوس د نړۍ لومړۍ شتمنه ښځه ګڼل کیږي.

۲. آلیس والتون(Alice Walton)

د پانګې کچه: ۵۰ میلیارد امریکایي ډالر

آلیس والټون د سام والټون لور ده. نوموړې د والمارټ شرکت اصلي سهم لرونکې ده چې ۷۰ کاله عمر لري او د امریکا ده.

نوموړې له ماشومتوبه د خپل پلار په څنګ کې را لویه شوه، کار او کسب یې زده کړ او د یاد شرکت لویه سهم لرونکې شوه. والټون اوس په نړیواله کچه د بشري خدمتونو او خیریه مرستو په برخه کې پېژندل شوې څېره ده او په دې برخه کې یې د خپلې پانګې لویه برخه لګولې ده.

باید وویل شي چې والمارټ په نړۍ کې د څنځیري پلورنځیو تر ټول لوی سوداګریز مرکز دی.

۳. مکنزي بزوس ( MacKenzie Bezos)

د شتمنۍ کچه: نږدې ۵۰ میلیارد امریکایي ډالر

مکنزي بزوس د جف بزوس پخوانۍ میرمن ده ( جف بزوس د امازون خرده پلورنځي شرکت خاوند) نوموړې د نړۍ له شتمنو کسانو شمېرل کېږي. دوی دواړو ۲۵ کاله ګډ ژوند وکړ او په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې له یو بل څخه جدا شول.

بزوس امریکایی ده او ۵۰ کال عمر لري. مکنزي د جف بزوس د شرکت له لومړنیو کارکوونکو ده او د خپل شرکت د جوړېدو په لومړیو کلونو کې له یو بل سره آشنا شوي وو.

د امریکا د قانون له مخې میرمن د خاوند په مال کې نیمایي برخه لري او د همدې قانون پر بنسټ مکنزي له خپل خاوند څخه د طلاق تر اخیستو وروسته د امازون شرکت ۵۰ سلنه سهم تر لاسه کړ او د نړۍ د لسو شتمنو ښځو په نوملړ کې یې دریېم مقام خپل کړ.

»

۴. جولیاکوخ

د شتمنۍ کچه: ۴۱ میلیارد امریکایي ډالر
جولیاکوخ هغه او درې بچې یې د ډیویډ کوخ له مرګ وروسته په کوخ شرکت کې ۴۱ فیصده برخه لري او پیسې یې په ۲۰۱۹ کال کې نېږدې ۴۱ میلیارد امریکایي ډالر دي.

۵. ژاکلین مارس (Jacqueline Mars)

د شتمنۍ کچه: ۳۴ میلیارد امریکایي ډالر
ژاکلین مارس امریکایی ده، ۸۰ کاله عمر لري او نوموتې مدیره ده. نوموړې د مارس ان کارپوریټډ شرکت سهم لرونکې او د مشرتابه هیئت غړې ده.

ژاکلین د فارست مارس لور او د فرانک سي لمسۍ ده، فرانک سي د مارس اینکورپوریټډ شرکت بنسټګر دی. نوموړې له ۱۹۹۱ زېږدیز په یاد شرکت کې دنده پیل کړه او شل کاله یې هلته کار وکړ او د دې شرکت د مدیره هیئت غړې وټاکل شوه.

۶. یان هویان(Yan Huiyan)

د شتمنۍ کچه: ۳۱ میلیارد امریکایي ډالر
هویان د نړۍ د ځوانو شتمنو ښځو له ډلې شمېرل کېږي. نوموړې ۳۷ کاله عمر لري او د چین هېواد ښځه ده. هویان د املاکو په برخه کې کار کوي او د خپلې شتمنۍ سمه نیمه برخه یې د پلار څخه په میراث ورته پاتې ده، خو جالبه یې دا ده چې نوموړې په ډېر کم وخت کې وتوانېده چې خپل شتمني دوه برابره کړي.

د نوموړې پلار یانګ ګوکیانګ د کانټري ګارډن شرکت په ۱۹۹۷ کال کې جوړ کړ او په ۲۰۰۷ زېږدیز کال کې یې د خپل شرکت ۵۰ سلنه برخه خپلو لورګانو ته ورکړه.

۷. سوزان کلاتن (Susanne Klatten)

د شتمنۍ کچه: ۲۹ میلیارد امریکایي ډالر
سوزان کلاتن په ۱۹۶۲ کال کې د آلمان هېواد په هامبورګ کې زېږېدلې ده. نوموړې د ام بي ډبلیو موټر جوړونې شرکت له اصلي سهم لرونکو او مدیرانو څخه شمېرل کېږي. کلاتن د خپلې کورنۍ د غړو سره د یاد شرکت ۵۰ سلنه برخه سهم لري.

۸. لورن پاول جابز (Laurene Powell Jobs)

د شتمنۍ کچه: ۲۶ میلیارد امریکایي ډالر
لورن پاول جابز د ستیو جابز میرمن ده. نوموړې دا مهال د اپل کمپنۍ لویه سهم لرونکې ده او د والټ ډیزني شرکت کې هم ۸ سلنه سهم لري.

نوموړې په ۱۹۹۱ کې له ستیو جابز سره واده وکړ او په ۲۰۱۱ زېږدیز کال کې د نوموړي تر وفات وروسته د جابز د شتمنۍ وارثه شوه. جابز تنها تېر کال تر سل میلیون زیات ډالر په خیریه کارونو لګولي دي.

۹. ابیګل جانسون

په دغه لېست کې تر ټولو غېرمشهوره ښځه ده. خو دغه ۵۷ کلنه ښځه اوسمهال ۱۴میلیارد امریکایي ډالرلري. نوموړې د ( فیډلېټیا نیوسټ منټ) په نوم د یو پانګونې شرکت مدیره ده.

۱۰. بلیر پري

دغه ۶۹ کلنه ښځه د امریکا او استرالیا هېوادونو تابعیت لري او اوسمهال 6.9 میلیارد امریکایي ډالر لري.•

سرچینې:

۱ – ثروتمندترین زنان جهان در سال 2019 چه کسانی هستند؟/ حدیث رحمانی/ ۱۳۹۸

https://www.bishtarazyek.com

۲ – top 10 richest women in the world; Net worths are as of March 18, 2020.

https://www.forbes.com/sites/kristinstoller/2020/04/07/the-top-10-richest-women-in-the-world-2020/#253ea48e4776

# د کورونا ویروس له خپرېدو سره د کومو کار او بارونو ګټه زیاته شوې؟

په دې مقاله کې د هغو کاروبارونو په اړه معلومات را غونډ شوي چې د کورونا ویروس د خپرېدو او قرنطین پر مهال یې ګټې زیاتې شوې دي. تمه ده چې افغان سوداګر به د دې شرکتونو تجربو ته په کتلو سره خپلو سوداګریو ته وده ورکړي او د هېواد د اقتصادي وضعیت په رغولو کې به له دولت سره اوږه په اوږه ګامونه پورته کړي.

په هېواد کې د بریالیو سوداګریو له تجربو ګټه اخیستنه ډېره اړینه ده او دا چاره کولای شي د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې مرسته وکړي.

معلومات ښيي، که څه هم یوه لور ته د کورونا ویروس مخنیوي اقداماتو له کبله نړیوال اقتصاد مخ پرځوړ دی، خو بل لور ته همدا اقدامات د ځینو کار او بارونو لپاره د پرمختګ او ودې لامل هم شویدي.

دبېلګې په توګه له قرنطیني اقداماتو وروسته د انټرنېټ له لارې راکړه او ورکړه ډېره شوه، خو که یوه لورته یې ځینې کار او باریانو ته ګټه ورسېده، نو د امازون په څېر د انلاین کار او بار لوی او مهم کار او باریان بیا ددغې موضوع یوه بل اړخ ته هم اشاره کوي.

د امازون په هکله چې د نړۍ ترټولو شتمن سړي جیف بېزوس تر مشرۍ لاندې فعالیت کوي، داسې رپوټونه خپاره شول، چې مشتریان یې په یوه ثانیه کې تر ۱۱ زره ډالرو پورې لګوي او دې سره دشرکت د ونډو بیه د خپل ریکارډ لوړ کچ ته ورسېده.

ایله څو اونۍ وروسته بیا د شرکت مسوولین په یوه جلا لهجه غږېدل. دوی وویل، دجنورۍ او فبروري میاشتو ترمنځ مو دې لپاره بنایي شرکت په پنځو کلونو کې لومړی ځل د زیان اعلان وکړي او دا ځکه چې د تقاضا پوره کولو لپاره یې لګښتونه ډېر کړي دي.

د شرکت په خبره ۱۷۵ زره اضافي کارګرو ته معاش ورکول، یوه لور ته او د کارکوونکو خوندیتوب لپاره پر اقداماتو او تجهیزاتو څلور میلیارده ډالرلګښت بل لور ته هغه څه دي چې د دوی عاید یې زیانمن کړی.

بل لور ته د لګښتونو په تړاو د امازون چارواکو له همدې څرګندونو سره هم پرې د کارکوونکو خوندیتوب کې د ناغیړۍ تورونه پورې کېږي او نیوکې پرې شوې دي.

**د قرنطین پر مهال له انلاین لارې راکړه ورکړه ډېره شوه**

په انلاین توګه د فلمونو او ډرامو وړاندې کونکې اداره نېټفلیکس هم له همدې ډلې انلاین شرکتونو یو دی چې د قرنطین پر مهال یې د لا ډېرو خلکو توجه جلب کړه. البته د نېټفلیکس مینه والو شمېر له قرنطین مخکې هم په ډېرېدو وو. په داسې حال کې چې تېرو پنځو کلونو کې د سینما ننداره‌چیانو شمېر ۱۸ سلنه ډېر شویدی، په همدې موده کې د نېټفلیکس مشتریانو شمېر بیا ۴۷ سلنه ډېر شوی.

د اپریل پر ۲۲ مه دغه شرکت وویل، له جنورۍ تر اپریله یې۱۶ میلیونه نوي مشتریان موندلي دي. د معلوماتو پر بنسټ یوازې په ایټالیا او اسپانیا کې د هغو خلکو شمېر په ترتیب سره ۵۷ او ۳۴ سلنه ډېر شوی چې لومړی ځل یې د نېټفلیکس اپلیکشن کارولی دی.

باید وویل شي چې نېټفلیکس د جنورۍ او مارچ ترمنځ میلیونونه نوي مشتریان موندلي، خو دغه کیسه هم یو بل اړخ لري او هغه دا چې یوه لورته دقرنطین له کبله د نویو فلمونو او ډرامو ثبت لړۍ په ټپه دربېدلې، نوبل لورته د یو شمېر هېوادونو د پیسو ارزښت هم ټیټ شوی. دا چاره بیا ددې لامل شوې چې په نړیواله کچه ددغه امریکایي شرکت ګټه ورسره ټیټه شي.

د ساعت تېري یوې بلې امریکایي کمپنۍ ډیزني بیا په ځینو برخو کې زیان، خو په ځینو نورو کې بیا ګټه کړې. د بېلګې په توګه د قرنطین له کبله یې خپل مهم

»

پارک د خلکو پرمخ تړلی. ددغې اداري د اجرایي مشر بوبچاپیک په وینا له کبله یې دوی ته یو اعشاریه څلور بیلیونه امریکایي ډالره زیان اوښتی دی.

د فیډیکس په څېر شرکتونه بیا د لوژستیک پر وړاندې له ځنډونو سره مخامخ دي، خو بل لورته بیا د دوی انلاین کار او بارهم خورا ډېره وده کړې او د ډیزني پلس په نامه پروګرام یې چې تېر دسمبر کې یې پیل کړ، ۵۵ میلیونه نوي مشتریان موندلي دي، چې دغه ځای ته د رسېدو لپاره نیټفلیکس ته اووه کاله وخت پکار دی.

دغه راز که یوه لورته دانلاین راکړې او ورکړې بازار تود دی، نو بل لور ته انلاین مشتریانو ته د توکو رسولو په برخه کې بیا ستونزې ډېرې شوې دي.

دبلګې په توګه د امریکا دوو مشهورو لوژستیک شرکتونو فیډیکس او یو پي ایس له حکومته د دې لپاره مرسته غوښتې چې په وینایې د قرنطین له کبله د استول شویو توکو په لېږد رالېږد کې له ځنډ او ځنډ سره مخامخ دي.

له ورته مخ پر ځوړ اقتصادي حالت سره هغه رستورانونه او خوړنځایونه هم لاس او ګرېوان دي چې کار اوبار یې پرانیستی و، خو یوازې کورونو او کارځایونو ته د خوړو لېږلو اجازه یې درلوده.

رېوټونو کې ویل شوي، د اروپا په لر او بر کې ددغسې خوراکي توکو د شرکتونو پرتله د هغو دکانونو او هټیو کار او بار ډېر غوړېدلی چې ناپاخه شوي یا اومه خوراکي توکي پلوري.

د یوګا فرش په څېر ورزشي آلاتو پلور په ټوله نړۍ کې ډېر شوی دی. د قرنطین محدودیتونو له پیل سره سم د جیم یا ورزشي کلبونو کار او بار په ټپه ودرید، خو له انلاین لارې د ورزشي آلاتو او تجهیزاتو پلور له هغو کار او بارونو یو دی چې وده یې کړې.

دغه راز د خواله رسنیو او په ځانګړې توګه د ویډیویي خواله اپلیکشنونو بازار هم د قرنطین په موده کې خورا ډېر غوړېدلی. د بېلګې په توګه د زوم په نامه ویډیویي چټ اپلیکشن یوازې په اپریل میاشت کې۱۳۱ میلیونه کسانو ډاونلوډ یا خپلوکمپیوټرونو ته ښکته کړی دی، چې د سنسور ټاور نومي څېړونکي شرکت په خبره د تېرکال پرتله ۶۰ سلنه ډېر دی.

سلاک یوبل دغه ډول شرکت دی، چې د انلاین له لارې د پیغام رسولو برخه کې فعالیت کوي. دغه شرکت هم ویلي، دجنورۍ او مارچ میاشتو ترمنځ موده کې یې د مشتریانو شمېر دوه برابره ډېر شوی دی.

پې پال شرکت چې له ډیجیټل لارې د پیسو راکړې او ورکړې یو مهم شرکت بلل کېږي، بیاد کوویډ- ۱۹ له کبله زیانمن شوی دی. د شرکت مسوولینو په خبره د۲۰۲۰ کال په لومړیو دریو میاشتو کې یې عاید د پروسږ کال په پرتله ۸۴ میلیونه امریکایي ډالره کم شوی دی، خو په ورته مهال ددغه شرکت د ونډو بیې بیا دمې تر اوومې نېټې خپل تر ټولو لوړکچ ته ورسېدې.

اقتصادي ماهرین دغه وضعیت داسې تشریح کوي، چې که یوه لورته د قرنطین له کبله د خلکو عاید کم شوی او د پیسو راکړه او ورکړه کمه شوې، نو بل لور ته له انلاین لارې د پیسو لېږد د پخوا په پرتله زیات شوی، چې ګټه یې پې پال ته رسېږي.

دغه شرکت د جنوري او مارچ تر منځ ۱۰ میلیونه نوي مشتریان موندلي دي او خلکو ددغه شرکت له لارې۱۹۹ میلیارده ډالر لېږلي، چې د ۲۰۱۹ کال هم دې موده کې دا ۱۶۱ اعشاریه پنځه میلیارده امریکایي ډالره وو.

سرچینې:


١ – The Biggest Business Impacts of the Coronavirus Pandemic
https://www.emarketer.com/content/the-biggest-business-impacts-of-the-coronavirus-pandemic-according-to-business-insider-intelligence

٢ – Which companies are coming through during the coronavirus crisis?
https://www.theguardian.com/business/2020/mar/29/which-companies-are-coming-through-during-the-coronavirus-crisis

٣ – هغه کاروبار ونه چې دکورونا وېروس بحران کې یې ګټه ډېره شوې
https://www.bbc.com/pashto/world-52649939

## د کرونا ویروس د مخنیوي په اړه د افغانستان بانک د بېړنی کمېټې دویمه غونډه

کابل، د ۱۳۹۹ کال د وري ۳ مه – د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي او دغه راز د دې ویروس په اړه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسیون د طرزالعمل په اړه د افغانستان بانک د بېړنی کمېټې دویمه غونډه جوړه شوه.

دا غونډه چې د افغانستان بانک د دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي په مشرۍ جوړه شوې وه، د افغانستان بانک د بېړنی کمېټې په لومړنی غونډه کې اړوندو څانګو ته د سپارل شویو دندو په اړه راپور وړاندې شو.

په دې غونډه کې د افغانستان بانک دویم مرستیال د اړوندو څانګو له مسئولینو مننه وکړه چې ورسپارل شوې چارې په ښه ډول ترسره کړې دي.

باید وویل شي چې په دې غونډه کې د کرونا ویروس د مخنیوي په اړه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسیون له لوري په جوړ شوي طرزالعمل هم خبرې وشوې او اړوندو څانګو ته دنده وسپارل شوه چې له یاد طرزالعمل سره سم اړوندې چارې برابرې او په اړه یې برابر شوی راپور راتلونکې غونډه کې وړاندې کړي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک د خپلو کارکوونکو او مراجعینو لپاره د کرونا ویروس څخه د مخنیوي لپاره اړین تدبیرونه نیولي دي. •

## ولسی جرگه از کارکردهای د افغانستان بانک ستایش بعمل آورد



کابل، ۳۱ ثور ۱۳۹۹ - شماری از اعضای ولسی جرگه از فعالیت ها و کارکردهای مثبت د افغانستان بانک در رابطه به تأمین و حفظ ثبات قیمت ها، طرح، اتخاذ و اجرای سیاست های معقول برای سمت و سو دادن نظام امور مالی و مؤثریت روند ترویج پول ملی با اعطای لوح تقدیر، ستایش بعمل آوردند.

محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک به نمایندگی از هیئت رهبری و کارمندان د افغانستان بانک از تقدیر اعضای ولسی جرگه سپاسگزاری نموده گفت که تقدیر از کارکردهای د افغانستان بانک نمایانگر تلاش های مثبت کارمندان و رهبری د افغانستان بانک میباشد که تعهد ما را به اجرای مؤثر وظایف مستحکم تر میسازد.

محترم محمد قسیم رحیمی به نمایندگی از د افغانستان بانک از اعضای محترم ولسی جرگه ابراز امتنان نمود. •

# خبرتیا

## ګرانو هېوادوالو!

د خپلو مالي معاملو د خوندیتوب او د صرافۍ او پولي خدمتونو د کارونې پر مهال د قــوانینو او مقــرراتو د ښه پلي کیدو په موخه د صرافۍ او د پولي خدمتونو جواز لرونکو او منع شـویو کړنو ته چې لاندې ترې یادونه شـوې، پاملرنه وکړئ، څو په مالي معاملو کې د خوندیتوب ترڅنګ، خپل قانوني او حقوقي مسئولیت هم اداء کړی.

## د مجوزي صرافۍ کړنې

- د اسعارو پېر او پلور (د اسعارو مبادله)
- د اسعارو د مخکې پېر د قراردادونو له لارې د معاملو ترسره کول

## د صرافۍ منع شوي کړنې

- له صرافانو سـره د امانتونو ابنبودل: صرافان نشي کولای چې له پېرودونکو څخه پیسې د امانت په توګه ترلاسـه او یا وساتي؛
- صرافان نه شي کولای چې کسبګرو، سوداګرو او داسې نورو اشخاصو ته د پور خدمتونه وړاندې کړي؛
- صرافان نشي کولای چې په داخل او یا له هېواد څخه بهر حوالې ترسره کړي او یا برعکس د حوالې پیسې اجراء کړي.

## د مجوزو پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو کړنې

- د پیسو لېږد؛
- په نغدو پیسو د چک مبادله؛
- د اسعارو مبادله او یا د صرافۍ نورې جواز لرونکې کړنې؛

## د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو منع شوې کړنې

- د امانتونو منل (قبلول): د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي نشي کولای چې له مشـــتریانو څخه امانتونه ترلاسه او وساتي؛
- د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي نشي کولای چې کسبګرو او سوداګرو ته د پور خدمتونه وړاندې کړي.

## کرونا؛ 'تاجران افغان یک و نیم میلیارد دالر زیان دیده‌اند'

اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان به بی‌بی‌سی گفته که با شیوع کرونا در افغانستان بخش خصوصی در این کشور "بیشتر از یک و نیم میلیارد دالر ضرر کرده است." وزارت مالیه افغانستان نیز می‌گوید که شیوع ویروس کرونا بر اقتصاد، جمع آوری مالیات و منابع مالی دولت تأثیرات منفی عمیق گذاشته است و اگر این روند تا دو الی سه ماه دیگر ادامه یابد اقتصاد افغانستان به "سمت صفر رفته و یا حتی به زیر صفر خواهد رفت".

شمعروز خان مسجدی، سخنگوی وزارت مالیه به بی‌بی‌سی گفت که با گسترش شیوع ویروس کرونا در افغانستان درآمد دولت نسبت به زمان مشابه در سال گذشته ۱۸ درصد کاهش یافته است.

درآمد امسال دولت کاهش یافته و کاهش قابل ملاحظه در صادرات و واردات سبب شده که شش میلیارد افغانی (حدود ۷۹ میلیون دالر) درآمد دولت در مقایسه به سال گذشته کمتر شود.

آقای مسجدی می‌گوید که این روند باعث تأثیرات بزرگ بر منابع درآمد دولت شده که از طریق مالیات، عوارض گمرکی و ارایه خدمات حکومتی تأمین می‌شد.

سخنگوی وزارت مالیه افغانستان افزود که دولت تلاش دارد که در شرایط این چنینی بودجه برخی پروژه‌های غیر ضروری را تعدیل کند.

ارگ ریاست جمهوری افغانستان نیز چند روز قبل اعلام کرده بود که رئیس جمهوری افغانستان دستور بررسی بودجه توسعه‌ای را به منظور مبارزه با کرونا داده است.

خان جان الکوزی، عضو هیأت مدیره اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری به بی بی سی گفت که شیوع ویروس کرونا باعث شده که ۸۰ درصد کارخانه‌های تولیدی بسته و میزان صادرات و واردات نیز به شکل بی‌سابقه اُفت کند و به پائین تر حد خود برسد.

او افزود که قبل از شیوع ویروس کرونا میزان واردات افغانستان به بیشتر از ۸ میلیارد دالر در سال می‌رسید. به گفته او تنها از طریق گذرگاه های مرزی با پاکستان همانند تورخم، غلام خان و سپین بولدک روزانه حدود یکهزار و ۵۰۰ کانتینر مال (کالا) وارد افغانستان می‌شد که اکنون در یک هفته به ۳۰۰ الی ۴۰۰ کانتینر کاهش یافته است.

شیوع ویروس کرونا باعث شده که همسایه‌های شمالی افغانستان نیز مرزهای خود را با این کشور ببندند. به گفته آرش یونسی، رئیس اتاق تجارت و صنایع بلخ، گذرگاه مرزی حیرتان هم مرز با ازبکستان اکنون بر روی مسافران بسته و تنها

»

محموله های اندکی مواد غذایی از طریق خط آهن و کشتی وارد افغانستان می‌شود.
براساس آمار اتاق تجارت بلخ، قبل از شیوع ویروس کرونا، ماهانه بیش از ۲۰۰ هزار تن کالا از کشورهای قزاقستان و ازبکستان از مسیر بندر حیرتان به افغانستان وارد می‌شد که این رقم حالا به کمتر از ۱۰۰ هزار تن رسیده است.
علاوه بر ازبکستان؛ ترکمنستان نیز مرز خود را با افغانستان بسته است. به گفته احمدشاه خان، معاون گمرک ولسوالی اندخوی در بندر آقینه ولایت فاریاب در مرز ترکمنستان این گذرگاه مرزی بر روی مسافران بسته است. واردات و صادرات بین ترکمنستان و افغانستان از این مسیر نیز به گفته او ۷۰ درصد کاهش یافته است.

**د پاکستان دروازو تړلو افغان سوداګر څه باندې سل میلیون ډالر زیانمن کړي**

افغانستان کې اوس د تازه مېوې موسم دی، افغان سوداګر چې پخوا یې تر ډېره دا مېوه پاکستان ته لېږدوله اوس پرې دا دروازې تړلې دي. دوی وایي، که دا دروازې خلاصې نه شي، ۶۰ سلنه کرنه زیانمېږي.
پاکستان تېر مارچ کې د کورونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره له افغانستان سره دروازې وتړلې.
د افغانستان د سوداګرو شورا وایي، پاکستان ته د صادراتو درې میاشتې په ټپه درېدو سوداګرو او بزګرانو ته څه باندې سل میلیونه ډالره زیان اړولی. دا شورا زیاتوي مخکې د تورخم او سپین بولدک له دروازو هره ورځ پاکستان ته د تازه میوې او سبو ( سبزي) ۵۰۰ ګاډي تلل، خو په تېرو درې میاشتو کې له دې دروازو هېڅ ګاډی نه دی وتلی.
د دې شورا د مشر امید حیدري په وینا، اوس دوی اړ دي چې په کورني بازار کې په کمه بیه تازه میوې او سابه ( سبزي) وپلوري.
نږدې ټرانسپورټي لار او د بازار ټیټ سټنډرد هغه څه دي چې افغان سوداګر خپلې ۹۰ سلنه مېوې دغه هېواد ته صادرې کړي او نورې بدیلې لارې هم ډېرې نشته.
افغان حکومت تېرو کلونو کې د اروپا او منځني ختیځ په ګډون مختلفو هېوادونو ته د خپلو صادراتو لپاره هوایي لارې پرانیستې، خو سوداګر یې ډېرې اغېزمنې نه بولي.

سرچینې:

۱- https://www.bbc.com/persian/afghanistan-52475448 تاریخ نشر ۱۱ ثور ۱۳۹۸

۲- بي بي سي پښتو https://www.bbc.com/pashto/53046483



# آیا غواړئ چې شتمن شئ؟

د کاروبار لاندې ستراتیژۍ او لارښوونې مو شتمن کولای شي:

په دې مقاله کې د کار او بار داسې یوه ستراتیژي در پېژنو چې پر پلي کولو سره به یې شتمن شئ. باور ولرئ که چېرته لاندې ټکي عملي کړئ، غوره پرېکړې به وکړای شئ او ښې لاسته راوړنې به ولرئ:

- **د پېرودونکو زیاتوالی موخه وګرځوئ**

ډېر خلک فکر کوي چې د کار او بار موخه د ګټې لاسته راوړل دي، خو دا خبره غلطه ده. د کار او بار اصلي او مهمه موخه د زیاتو پېرودونکو موندل او ځانته د هغوی راجذبول دي.

د هر کار او بار پنځوس سلنه وخت، هڅې او لګښتونه باید پر دې راټول وي چې له بېلابېلو لارو خپل پېرودونکي زیات او له ځانه سره یې وساتي.

- **د پېرودونکي رضایت تر لاسه کړئ**

د کار او بار د پوره کامیابۍ او بریالیتوب یوه مهمه برخه د پېرودونکود رضایت او د هغوی خوشاله ساتل دي. تاسې باید د پېرودونکو د خوښ ساتلو لپاره دا وړتیا ولرئ چې هغوی د نورو پر ځای له تاسې سودا واخلي، یعنې هر ځل تاسې ته راشي او دومره اغېز پرې وکړي چې د خپل ځان ترڅنګ نور ملګري هم ستاسې خواته راولي.

مه هېروئ چې له پېرودونکو سره ستاسې دا ډول ښه چلند همدا ستاسې د ډېرې ګټې او لویې بریا لامل هم کېدای شي.

- **کیفیت لوړ کړئ**

د یوې بریالۍ سوداګرۍ تر ټولو مهمه برخه ستاسې د توکیو د کیفیت لوړوالی دی. نو اړینه ده چې له بېلابېلو لارو د خپلو سوداګریزو توکو کیفیت لوړ کړئ.

په یاد ولرئ چې د شتمنۍ سرچینه د کیفیت په لوړوالي کې نغښتې ده، ځکه کار او »

بار هغه وخت ګټه او پراختیا مومي چې سوداګریز توکي مو ارزښتمن وي، کیفیت یې ښه وي او هم په ښه ډول سره خپل یاد کار او بار پرمخ یوسئ.

هره ورځ باید هڅه وکړئ چې له بیلابیلو لارو مو کار او بار ارزښتمن کړئ او د پېرودونکوتجربې ته مو نوي څه ور اضافه کړئ.

- **مرسته کوونکي و اوسئ**

په ژوند، کار او سوداګرۍ کې د دې لپاره چې خوشحاله او بریالي و اوسئ، نو په کار ده چې له نورو سره مرستندویه و اوسئ. له نورو سره مرسته او همکاري د دې لامل کېدای شي چې ډېر خلک ستاسې خواته راجلب شي.

- **پوښتنه وکړئ**

ډېره اړینه پوښتنه چې تاسې یې خپلو ستونزو د حل لپاره پوښتلای شئ، د څنګه (How) پوښتنه ده. باور وکړئ چې همدې کوچنۍ پوښتنې ډېرې لویې ستونزې حل کړې دي.

تاسو همدا اوس د خپلې سوداګرۍ د بریا په اړه دا وپوښتئ چې څنګه کولای شو زیاته ګټه وکړو او یا هم له تاوان څخه مخنیوی وکړو. دې پوښتنو ته ځوابونه او د حل لارې یې پیدا کړئ.

**پرمختګونو ته مو پوره پاملرنه ولرئ**

د چټکو رقابتونو او سیالیو په نننۍ نړۍ کې لازمه ده چې د پرمختګونو د دوامداره ساتلو لپاره ډېر کار وشي. د باسکټبال یو روزونکی پټ رایلي وایي، که غواړئ ښه والي لور ته لاړ نه شئ، نو د بدوالي پر لور به ورځئ. یعنې که موږ بې له پرمختګه پاتې شو یا ورته کار ونه کړو، دا د دې لامل کېږي چې د بدوالي پر لور لاړ شو، مانا دا چې له ستونزو باید تېښته و نه کړو او له ستونزو سره باید مبارزه وشي.

- **زیاته پلورنه بریالیتوب دئ**

پلورنه د سوداګرۍ زړه او پایې دي، که غواړئ چې د سوداګرۍ زړه مو له کاره و نه لوېږي او ستنې یې محکمې پاتې شي، د خپلو توکو د پلور لپاره د نورو سوداګریزو مرکزونو په پرتله د خپلو پېرودونکو لپاره آسانه او غوره کیفیت لرونکي خدمتونه وړاندې کړئ.

ډن او براډسټریت دوو څېړونکو د هغو په زرګونو کمپنیو څېړنه کړې چې له ناکامۍ سره مخ شوې دي. د دې کمپنیو د ناکامۍ د ډېرو نورو لاملونو ترڅنګ یو دا ؤ چې (کمزوري یا کمه پلورنه) یې درلوده.

- **کار او بار ته مو پراختیا ورکړئ**

هر کار او بار باید د ودې او پراختیا یو پلان ولري. د کار او بار پراختیا باید ستاسې د فعالیتونو اصلي موخه وي. تاسې باید په هر کال کې د ۱۰، ۲۰ یا ۳۰ سلنه ودې او پراختیا موخه ولرئ.

په یاد ولرئ چې داسې کمپنۍ هم شته چې په یوه کال کې یې له ۵۰ تر ۱۰۰ سلنه پراختیا موندلې ده او وده یې کړې ده، دا کوم تصادف نه دی. د غوره ستراتیژیانو لرل تاسو د بریا لوړو څوکو ته رسوي.

سرچینې:

1 - The Secret to Getting Rich
By: Brian Tracy
https://www.briantracy.com/blog/financial-success/the-secret-to-getting-rich/
2 - How to Get Rich (In a Small Business)
Published: Jan 20, 2020 /by Anita Campbell In Finance
https://smallbiztrends.com/2020/01/how-to-get-rich.html
3 - https://yaran.com/business1/byGhazi Abid

# اطلاعیه

**هموطنان عزیز!**

**شما می توانید بانکنوت های مندرس افغانی خود را در همه نمایندگی ها و شهری‌ځانگه های د افغانستان بانک و بانک های تجارتی بدون کدام فیس یا کمیشن تعویض یا در حسابات مربوطه خویش تحویل نمائید.**

**در عین حال، عموم بانک های کشور مسئولیت دارند تا بر علاوه تعویض بانکنوت های مندرس آنرا در تمام تحویلی ها پذیرفته و در این پروسه سهیم گردند.**

**در صورت شکایت، هموطنان ما میتوانند به شماره تیلفون های ذیل در تماس شده تا به مشکل شان رسیدگی لازم صورت گیرد.**

**ګرانو هېوادوالو!**

**تاسې کولای شئ خپل زاړه بانکنوټونه د افغانستان بانک او سوداګریزو بانکونو په ټولو نمایندګیو او ښاري څانګو کې له کوم فیس او کمېشن پرته بدل‌ې او یا په خپلو اړوندو حسابونو کې تحویل کړئ.**

**په ورته وخت کې، د هېواد ټول بانکونه مسؤولیت لري څو د زړو بانکنوټونو له بدلولو سربېره هغه په ټولو تحویلیو کې ومني او په دې پروسه کې ونډه واخلي.**

**د شکایتونو په صورت کې، زمونږ هېوادوال کولای شي له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسي څو ستونزې د حل لپاره یې لازمه اجراات تر سره شي.**





## ګرانو هېوادوالو!

## ملي بيرغ، ملي سرود او ملي پيسې زموږ د ملي ارزښتونو له ډلې څخه دي

### اطلاعیهٔ د افغانستان بانک

به تعقیب اطلاعیه قبلی؛ د افغانستان بانک یک بار دیگر به اطلاع هموطنان عزیز می رساند که تعدادی از افراد در مرکز و بعضی از ولایات هنوز هم تحت نام تجارت آنلاین فورکس به معاملات مالی اقدام می نمایند. د افغانستان بانک تا اکنون به هیچ فرد یا شرکتی جواز فعالیت آنلاین فورکس را صادر ننموده و تمام فعالیتها در این زمینه غیر قانونی می باشد. از اینکه داد و ستد با چنین افراد و شرکت ها عاری از خطر نبوده و زیان های مالی را برای هموطنان ما به بار می آورد، از هموطنان عزیز جداً تقاضا می نمائیم تا از انجام معاملات با چنین افراد و شرکت ها خودداری نمایند.

د افغانستان بانک در تلاش است تا افرادی که چنین فعالیت ها را راه اندازی می نمایند، شناسایی نموده و به ارگانهای عدلی و قضایی معرفی نماید.

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال سیزدهم شماره ۱۵۴،۱۵۵و ۱۵۶، جوزا ۱۳۹۹




## زه افغانه یم، افغانی زما هویت دی.